# د مذاهبو په رڼا کې د إستسقاء لمانځه حکم

نامزد پوهنیارطارق صمیم، فقه او قانون څانګه، شرعیاتو پوهنځی، لغمان پوهنتون

**لنډیز**

د اسلام مبارک دین یو عام، تام او شامل دین دی، دا داسې دین دی چې د ژوند ټول اړخونه په خپل بر کې نیسي، د شریعت حکم دا دی چې مسلمان باید په هر حالت کې الله تعالی ته راجع او تائب وي، او دالله تعالی د رحمت څخه نا امیده نه شي، دا چې په انسان باندې په ژوند کې مختلف وختونه او حالات راځي نو یو د هغې جملې څخه د قحطۍ، سختۍ او تکلیفونو وخت دی، د قحطۍ او سختۍ پر مهال باید مسلمان د الله تعالی څخه د خیر، برکت او رحمت غوښتنه وکړي، د دې لپاره چې قحطي ختمه، فصلونه، حیوانات او انسانان خړوب شي نو شریعت د استسقاء لمونځ راښودلی دی، چې یاد لمونځ د الله تعالی د لورې په خپلو بنده ګانو باندې یوه لویه پېرزوینه ده، او دا لمونځ د یادې ستونزې د حل لپاره اسانه طریقه ده، نو کوم علماء چې وایي د استسقاء لپاره لمونځ کیږي نو بنده ګان به یاد لمونځ په عاجزۍ او تواضع باندې په هغه شکل اداء کړي چې شریعت ترې غوښتنه کړې ده، او کوم علماء چې وایي د استسقاء لپاره به دعاء غوښتل کیږي او لمونځ پکې نشته دوی نظر لري چې په عاجزۍ، تضرع او خاکسارۍ باندې به د الله تعالی څخه د باران دعاء وغواړي، دا چې دا لمونځ څنګه؟ ولې؟ کله؟ او چېرته آداء شي نو ما دا مقاله د کتابتوني میتود – تفسیر، حدیث، فقهې او نورو معتبرو علمي سرچینو ته د مراجعې کولو– په اساس لیکلې ده.

**کلیدي کلیمې:** استسقاء، مذاهب، مشروعیت، أئمة، سنت مؤکده.

**سریزه**

الحمدلله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه أجمعين أما بعد!

قال الله تعالى: وَإِذِ اسْتَسْقَى مُوسَى لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَشْرَبَهُمْ كُلُوا وَاشْرَبُوا مِنْ رِزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ (البقرة ۶۰)

خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَبَذِّلا مُتَوَاضِعًا مُتَضَرِّعًا ، حَتَّى أَتَى الْمُصَلَّى ، فَلَمْ يَخْطُبْ خُطْبَتَكُمْ هَذِهِ ، وَلَكِنْ لَمْ يَزَلْ فِي الدُّعَاءِ وَالتَّضَرُّعِ وَالتَّكْبِيرِ ، وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَمَا كَانَ يُصَلِّي فِي الْعِيدِ.

د انساني ژوند ښکلا په دې کې ده چې د اسلامي ارشاداتو موافق مخته لاړ شي، دا ژوند هغه وخت د تقوا او دیانت په لوړه مرتبه کې ودرېږي چې د دین په هره برخه او حکم باندې عمل وشي، د دین د مختلفو مسائلو او أحکامو د جملې څخه یوه مسئله هم د استسقاء ده، یعنې د ضرورت پر مهال د الله تعالی څخه د باران غوښتنه، په لغوي لحاظ استسقاء د اوبو غوښتنې ته ویل کېږي، د موسی علیه السلام په هکله په قرآنکریم کې راغلي دي چې نوموړي د خپل قوم لپاره د اوبو غوښتنه کړې وه، همدا راز ډېر شمېر نبوي أحادیث د اوبو غوښتنې او استسقاء په رابطه شتون لري.

د استسقاء په هکله علماء او فقهاء په دې آند دي چې د قحطۍ پر مهال د باران غوښتل مؤکد سنت عمل دی، د استسقاء په هکله د امام أبو حنیفه رحمه الله پرته ټول فقهاء او أئمة په دې نظر دي چې استسقاء لمونځ کول او دعاء غوښتل دي؛ خو امام أبوحنیفه رحمه الله وایي چې په سنت طریقه دعاء کول دي.

استسقاء مختلف ډولونه، طریقې او أحکام لري چې په دې مقاله کې ورته اشاره شوې ده.

## د څېړنې پوښتنې:

۱.استسقاء څه ته وايي؟
۲.استسقاء شرعي حکم څه دی؟
۳.آیا استسقاء صرف په لمونځ کولو کیږي او که نه نور ډولونه هم لري؟
۴.د استسقاء لمونځ په محیط باندې کوم اثر کوي؟

## د څېړنې ارزښت:

الله تعالی د ټول عالم پیدا کوونکی، متصرف، مدبر او مربّي دی، او د خپل مخلوق په ټولو حالاتو باندې عالم دی، نو دغې حالاتو ته په کتلو یې مختلف أحکام رالیږلي دي چې د مخلوق لپاره پکې لوی خیر او هوساینه رانغښتې ده، چې د دې أحکامو له جملې څخه یو هم د (استسقاء لمونځ) دی، چې د قحطۍ او سختۍ په وخت کې ورته الله تعالی خپل بنده ګان متوجې کړي دي، چې الله تعالی ته عاجزي او تضرع وکړي چې راغلي حالات الله تعالی بدل کړي، نو یاد لمونځ مشروع شوی دی چې لوی ارزښت او أهمیت لري.

## د څېړنې موخې:

دا موضوع ځینې خاصې موخې او أهداف لري چې د هغې د جملې څخه یې دادي:

۱ـ د الله تعالی رضا حاصلول.
۲ـ په علمي ډګر کې خدمت.
۳ـ یاده موضوع تر نورو خلکو رسول.
۴ـ د استسقاء په تړاو یوه هر اړخیزه مقاله لیکل او ټولنې ته یې وړاندې کول.

## د موضوع د غوره والي لاملونه:

لکه څنګه چې د اسلامي شريعت ټول أحکام په خپل ځای د أهميت وړ او د لوړ شان څښتن دي، او ددغې احکامو په عملي کولو سره اسلامي ټولنه د ستونزو او مشکلاتو څخه ژغورل کيږي، نو ددغې أحکامو د جملې څخه يو هم (د استسقاء لمونځ) دی، نو ددې موضوع په اړه مې په پښتو ژبه کې داسې کومه ليکنه پيدا نکړه چې په ټولنه کې د نوموړې موضوع اړوند ستونزې حل او په علمي ډګر کې ترې خلك استفاده وکړي، نو ماته احساس پيدا تر څو په ياده موضوع کې يوه داسې مقاله وليکم چې د ټولنې ستونزې پرې حل شي.

## د څېړنې تګلاره

ما دا مقاله د نورو علمي او څېړنيزو مقالو په څېر أصولو ته په کتلو ليکلې ده، دا چې په دې ليکنه کې په کومه طريقه مخته تللی يم، دلته يې ذکر کوم :

۱ـ ما دا مقاله د کتابتوني ميتود – تفسير، حديث، فقهې او نورو معتبرو علمي سرچينو ته د مراجعې کولو– په اساس ليکلې، او بيا مې ورته يو منظم شکل ورکړی دی.

۲ـ په ليکنه کې مې د ساده او روانې پښتو ژبې لحاظ ساتلی دی.

۳ـ د موضوع اړوند آيتونو ژباړه مې د معتبرو تفاسير څخه کړې ده.

۴ـ د موضوع اړوند أحاديث او د هغې ژباړې مې د معتبرو أحاديثو کتابونو څخه راخيستي دي.

۵ـ د هر مذهب قول مې د هماغې مذهب کتاب څخه نقل کړی دی.

۶ـ د هر عالم قول مې په پوره امانتدارۍ سره هماغه عالم ته منسوب کړی دی.

**استسقاء تعریف:**

استسقاء د لغت له مخې طلب د خړوب کېدلو ته وایي، معنی دا چې په ښار او خلکو د باران وربدل وغوښتل شي.

عربان استسقیتُ فلانا هغه مهال وایي چې د یو چا څخه د اوبو طلب وکړي، او په اصطلاح کې عبارت دی: په خاص کیفیت سره د الله تعالی څخه د اړتیا پر مهال د باران غوښتنې ته استسقاء وایي. (ابن المنظور، ۹۳/۱۴).

د استسقاء حکم: شوافع، حنابله او په أحنافو کې محمد بن حسن الشیباني رحمهم الله وایي: استسقاء مؤکد سنت ده، دا بیا برابره خبره ده چې استسقاء په دعاء او لمونځ دواړو سره وي، یا هم یواځې په دعاء سره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم، صحابه کرامو یې او ټولو مسلمانانو ترسره کړې ده، خو امام أبو حنیفه رحمه الله وایي: استسقاء کې سنت طریقه دعاء ده او په لمونځ سره جواز لري (شمس الدین ۲ / ۴۰۲) او (ابن عابدین ۱ / ۷۹۱ ).

**د استسقاء د مشروعیت دلائل:**

د استسقاء مشروعیت په نصوصو او اجماع سره ثابت دی، د نص مثال یې دا قول د الله تعالی دی:

{ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا) (شمس الدین:۲ / ۴۰۲) او(سورة نوح ۱۰ ـ ۱۲)

ژباړه: ما (نوح) وویل: له خپل رب څخه بښنه وغواړئ، بېشکه چې هغه خورا ډېر بښونکی دی، هغه به پر تاسې له اسمانه ښه اورښتونه وکړي، تاسو ته به مالونه او اولادونه په برخه کړي، ستاسې لپاره به باغونه پیدا کړي او ستاسې لپاره به ویالې وبهوي.

نو له پورتنیو آیاتونو څخه معلومېږي چې د اورښتونو د بندیز پر مهال باید الله تعالی ته رجوع وشي، نبکی ترسره او له بدیو څخه ځان وساتل شي دا به ددې لامل شي چې اورښتونه پیدا او موسم رنګین شي.

همدا راز د استسقاء په تړاو په مختلفو احادیثو کې یادونه شوې، چې مونږ به یې د نمونې په توګه یو حدیث ذکر کړو:

په یوه روایت کې أنس بن مالك رضي الله عنه فرمايي: : " أَنَّ النَّاسَ قَدْ قَحَطُوا فِي زَمَنِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ رَجُلٌ مِنْ بَابِ الْمَسْجِدِ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ . فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكَتِ الْمَوَاشِي ، وَخَشِينَا الْهَلاكَ عَلَى أَنْفُسِنَا ، فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يَسْقِيَنَا . فَرَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَيْهِ فَقَالَ : اللَّهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا هَنِيئًا مَرِيئًا غَدَقًا مُغْدِقًا عَاجِلا غَيْرَ رَائِثٍ . قَالَ الرَّاوِي : مَا كَانَ فِي السَّمَاءِ قَزَعَةٌ ، فَارْتَفَعَتِ السَّحَابُ مِنْ هُنَا وَمِنْ هُنَا حَتَّى صَارَتْ رُكَامًا ، ثُمَّ مَطَرَتْ سَبْعًا مِنَ الْجُمُعَةِ إِلَى الْجُمُعَةِ . ثُمَّ دَخَلَ ذَلِكَ الرَّجُلُ ، وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ ، وَالسَّمَاءُ تَسْكُبُ ، فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ تَهَدَّمَ الْبُنْيَانُ ، وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ ، فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يُمْسِكَهُ ، فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَلالَةِ بَنِي آدَمَ . قَالَ الرَّاوِي : وَاللَّهِ مَا نَرَى فِي السَّمَاءِ خَضْرَاءَ . ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ ، فَقَالَ : اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلا عَلَيْنَا ، اللَّهُمَّ عَلَى الآكَامِ وَالظِّرَابِ ، وَبُطُونِ الأَوْدِيَةِ، وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ . فَانْجَابَتِ السَّمَاءُ عَنِ الْمَدِينَةِ حَتَّى صَارَتْ حَوْلَهَا كَالإِكْلِيلِ "(البخاري:۲/ ۵۰۸ـ۵۰۹).

ژباړه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې خلک له قحطۍ سره مخ شو نو یو سړی د جمعې په ورځ په هغه دروازه چې د منبر مخې ته ده راننوت، رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه ویله، نو هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله رسوله! د خلکو مالونه هلاک شوه، او مونږ د خپلو ځانونو په هلاکت وېرېږو، نو الله تعالی ته دعا وکړه چې په مونږ باندې باران وکړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم لاسونه پورته او وې

ویل: یا الله په مونږ باندې پرېمانه او پراخه باران وکړې، خوش هضمه او ښه تېرېدونکی، داسې باران چې اوبه یې ښې ډېرې او برکتي وي، داسې باران چې پاک صفا او له پلیتیو څخه خالي وي، راوي وایي: په اسمان کې د ورېځو څرک هم نه وو، نو ورو ورو د یو او بل ځای څخه ورېځې راټولې تر دې پورې چې د ورېځو یو لوی ډېری جوړ او تر بلې جمعې پورې باران ووربده، بیا همدا سړی په داسې حال کې مسجد ته را داخل چې نبي علیه السلام خطبه وړاندې کوله او باران وربدلو، نو وې ویل: ای د الله رسوله! آبادۍ ونړېدلې، لارې هم خرابې شوې د الله تعالی څخه وغواړه چې باران ودروي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د بني آدم په شکایت او ستړیا موسکا وکړه، راوي وایي: قسم په الله مونږ ته په اسمان کې شینوالی نه ښکاربده، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل مبارک لاسونه پورته او دعا یې وکړه: یا الله زمونږ په ځای یې په اطرافو او شاوخوا ووروې، ای الله په غونډیو، دښتو، خوړونو او ځنګلونو یې ووروه، په دې سره دا وریځې د اسمان څخه داسې را تاو شوې لکه غاړه کی او باران په خپله مخه ولاړ.

په همدې حدیث باندې امام أبو حنیفه رحمه الله استدلال کړی دی چې د استسقاء لپاره یواځې دعاء کول سنت دي، لمونځ او له کلي مسجد بهر وتل سنت نه دي.

**د استسقاء د مشروعیت راز:**

په انسان چې کله ستونزې، تکالیف او مشکلات راځي نو ځینې یې د لرې کولو توان لري او د ځینې لرې کولو توان نلري، او د سترو ستونزو د جملې څخه یو هم د باران ودرېدل دي، هغه اوبه چې د هر ذي روح لپاره ژوند او خواړه دي، او انسان نشي کولای چې ددې ستونزې څخه ځان خلاص کړي؛ خو الله تعالی ته دا چاره ډېره اسانه ده، ددې لپاره چې انسان ددې سترې ستونزې څخه خلاص شي نو د الله تعالی څخه غوښتنه کولای شي.

**د استسقاء ډولونه:**

استسقاء په درې ډوله دی، په دې أقسامو باندې د څلور واړو مذاهبو اتفاق دی، ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي، خو ځینې فقهاؤ ځینې ډولونو ته په ځینو نورو غوره والی ورکړی دی.

**شوافع او حنابله وايي استسقاء درې ډولونه لري:**

لومړی: د لمونځ پرته دعاء، او دا د استسقاء ټیټه درجه ده، ځانته ځانته او یا په ډلییزه توګه، که په مسجد کې وي او یا هم کوم بل ځای کې، او په دې کې غوره داده چې د غوره او نېکو خلکو له خوا ترسره شي.

دویم: د جمعې ورځ لمانځه، خطبې  او یا هم کوم بل لمونځ پسې متصل دعاء کول.

درېیم: د دوه رکعته لمونځ او دوه خطبو په واسطه استسقاء کول، په داسې توګه چې مخکې ترې صدقات او خیراتونه ورکړل شي، او دا د استسقاء تر ټولو غوره ډول دی.

په دې لمونځ کې د کلیو، بانډو او ښارونو خلک ټول او مسافر یو شانته دي، دوی ټولو ته لمونځ او دوه خطبې سنت دی، او یو تن ته خطبه نشته او یواځې لمونځ دی چې هغه هم ورته مستحب دی. (النووي: 5 / 64) او(المغني: 2 / 297).

**د استسقاء وخت:**

کله چې استسقاء یواځې په دعاء سره وي نو بیا په هر وخت کې ترسره کېدای شي، او که چېرې په لمونځ او دعاء سره وي، نو د ټولو فقهاوو اتفاق دی چې د کراهیت په وختونو کې یې آداء نه ده په کار؛ جمهور علماء په دې آند دي چې د کراهیت وختونو

پرته بل هر وخت کې ترسره کېدای شي، ددوی ترمنځ اختلاف یواځې په هغه وخت کې دی چې أفضلیت لري.

د مالکیانو په پرته نور فقهاء وايي: د څاښت وخت څخه شروع تر د لمر زوال پورې دا وخت غوره دی، دوی وايي چې ددې څخه دې مخکې او وروسته نه ترسره کېږي؛ خو شوافع د أفضل وخت په  تړاو درې نظرونه لري:

لومړی: د استسقاء د لمونځ وخت د اختر د لمانځه وخت دی، معنی دا چې په کوم وخت کې د اختر لمونځ کېږي هماغه وخت کې دې د استسقاء لمونځ هم ترسره شي، دا نظر د مالکیانو هم دی او حنابله دا وخت غوره وخت بولي.

دویم: لومړی وخت یې د اختر د لمانځه وخت دی او د مازیګر تر لمانځه پورې دوام کوي، او دا روایت د عائشې رضي الله عنها څخه نقل دی.

درېیم: دا په کوم خاص وخت پورې نه دی تړل شوی، بلکې د کراهیت وختونو پرته د شپې او ورځې په هر وخت کې ترسره  کېدای شي، دا قول د امام شافعي او محققینو علماؤ دی.

دوی په دې استدلال کوي چې د استسقاء لمونځ د استخارې د لمونځ په څېر دی چې یواځې تر ورځې پورې منحصر نه دی(النووي: 5 / 76 ، 77).

أحنافو د استسقاء لپاره کوم خاص وخت نه دی ټاکلی؛ ځکه د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد سنت طریقه دعاء کول دي، او دعاء په هر وخت کې ترسره کېږي کوم خاص وخت نلري.

**د استسقاء څخه دمخه آداب:**

فقهاؤ ځينې آداب ذکر کړي دي چې د هغې ترسره کول د استسقاء د لمانځه وړاندې غوره دي، دا آداب عبارت دي له :

۱. امام به خلکو ته وعظ کوي، ددې خبرې أمر به کوي چې خلك د ظلم څخه لاس واخلي، د ګناهونو څخه د توبې باسلو توصيه به ورته کوي، د خلکو د حقوقو په رعايت کولو دې أمر وکړي؛ دا ځکه چې ګناهونه د قحطۍ نښه او طاعت د برکت لامل دی، الله تعالی فرمايي: وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ (سورة الأعراف / ۹۶)

ژباړه: که د سيمو خلکو ايمان راوړی وای او د پرهېزګارۍ کړنلاره يې غوره کړې وای، نو مونږ به پر هغو د اسمان او ځمکې د برکتونو دروازې پرانيستې وې؛ خو هغو د درواغو نسبت وکړ، نو مونږ ځکه د هغې ناوړه ګټې په حساب کې هغوی ونيول چې راغونډوله يې.

۲.د استسقاء څخه دمخه روژه نيول.

۳.د استسقاء څخه دمخه صدقه کول.

۴.په دعاء او لمونځ سره استسقاء ترسره کول.

۵.الله تعالی ته نيك اعمال واسطه کول.

۶.الله تعالی ته عاجزي کول او استغفار غوښتل.

۷.د استسقاء په لمونځ کې حيوانات او ماشومان راويستل.

**د استسقاء د لمانځه طريقه:**

باوري خبره داده چې د استسقاء لمونځ دوه رکعته دی، په دې کې کوم اختلاف شتون نلري،

**خو د کیفیت په هکله یې دوه نظره دي:**

لومړی: د اختر لمونځ  په څېر دوه رکعته لمونځ دی چې په لومړي رکعت کې به اوه تکبیره ویل کیږي او په دوهم کې پنځه تکبیره دا د شوافعو، حنابله ؤ، امام محمد، سعید بن المسیب او عمر بن عبدالعزیز رحمهم الله نظر دس، دوی په دلیل کې د ابن عباس رضي الله عنهما هغه حدیث راوړي چې مخکې مو ذکر کړ، همدا راز د جعفر بن محمد دا روایت راوړي: عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ كَانُوا يُصَلُّونَ صَلاةَ الاسْتِسْقَاءِ يُكَبِّرُونَ فِيهَا سَبْعًا وَخَمْسًا "( عبد الرزاق: ۳ / ۸۵ ).

ژباړه: د جعفر بن محمد څخه روایت دی چې هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم، أبو بکر او عمر رضي الله عنهما به د استسقاء لمونځ په داسې ډول کولو چې په لومړي رکعت کې به یې اوه او دویم رکعت کې به یې پنځه تکبیرونه کول.

دویم: د نفل په څېر عادي دوه رکعته لمونځ به کیږي، دا د مالکیانو، امام محمد یو قول، أوزاعي، أبو ثور او اسحاق نظر دی، دوی په دلیل کې دا حدیث راوړي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ : " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَسْقَى فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ " ( الشوکاني: ۴ /۶ ).

ژباړه: د عبدالله بن زید رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د استسقاء لپاره دوه رکعته لمونځ وکړ.

معنی دا چې تکبیرونه یې پکې ونه کړل، لکه څنګه چې د ابو هریره رضي الله عنه د حدیث څخه هم معلومیږي. ټول مذاهب په دې باندې متفق دي چې د استسقاء لمونځ کې قرائت په جهر سره کیږي؛ ځکه دا د خطبې والا لمونځ او کوم لمونځ چې خطبه ولري په هغې کې قرائت جهري کیږي.

**د استسقاء لمونځ څخه وروسته د څادر اړول**

شوافع، مالکیان او حنابله رحمهم الله په دې آند دي چې امام او مقتدیانو ته مستحبه ده چې خپل څادرونه واړوي، څکه رسول الله صلی الله علیه وسلم همداسې کړي دي، او بله داه چې کوم کار چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کړی وي هغه د نورو په حق کې هم ثابت دی تر دې چې په نبي پورې د اختصاص کوم دلیل پرې نه وي موجود شوی، د څادر اړول هم نیک پالي ده چې الله تعالی به د قحطۍ دا دوران په آبادۍ او سرسبزۍ بدلوي، البته دا چاره به یواځې سړي ترسره کوي.

محمد بن الحسن الشیباني، ابن المسیب، عروة، سفیان الثوري او لیث رحمهم الله په دې نظر دي چې د څادر اړول یواځې تر امام خاص دي مقتدیان به دا کار نه کوي؛ څکه د څادر اړول یواځې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل دي، نه د أصحابو څخه..(ابن الهمام:ج ۱ / ص ۴۴۰ ).

**پایله**

زه ددې لیکنې په پای کې دې نتیجې ته ورسېدم چې استسقاء د اوبو طلب او غوښتنې ته ویل کیږي، او د دې غوښتنه مؤکد سنت ده، دا یوه داسې کړنه ده چې د قرآنکریم سورت نوح کې پرې أمر شوی دی، او په مختلفو نبوي أحادیثو کې ورته اشارې شوي دي.

مدا راز ماته د څېړنې په جریان کې معلومه شوه چې استسقاء دعاء او لمونځ دی، لکه څنګه چې أکثریت فقهاء او علماء په همدې نظر دي، البته امام أبو حنیفه رحمه الله وایي چې په استسقاء کې سنت طریقه یواځې دعاء ده او لمونځ کول جائز عمل دی، نوموړی وایي لمونځ څکه سنت نه دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې دوام نه دی کړی

او هر هغه کړنه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې دوام نه وي کړی مونږ هغې ته سنت نشو ویلای.

همدا راز راته معلومه شوه چې د استسقاء لمونځ دوه رکعته دی او د حنفي فقهې په رڼا کې د عادي نفل په څېر آداء کېږي البته ځینې فقهاء وايي چې اوه او پنځه تکبیرونه پکې دي.

بله خبره داده چې د نېکانو په توسط استسقاء ترسره کېدای شي لکه څنګه چې په أحادیثو کې ورته اشارې وشوې. بله دا چې د لمانځه وروسته د څادر اړول سنت دي، او د ځینې فقهاؤ د نظر موافق د انسانانو سربېره حیوانات به هم د لمانځه ځای ته وړل کېږي، تر څو الله تعالی مهربانه او باران وکړي.

په ټوله کې یاده موضوع په مهمو مطالبو راڅرخي چې د دلائلو په رڼا کې واضح شوي دي.

**وړاندیزونه**

د دې موضوع اړوند یو څو وړاندیزونه لرم چې په لاندې ډول ورته اشاره کوم:

۱. علماؤ، پوهانو د پوهنتونونو استادانو ته مې وړاندیز دادی چې د یادې موضوع په اړه لیکنې او څېړنې ترسره کړي.

۲. عامو خلکو، طالب العلمانو او محصلینو ته مې وړاندیز دادی چې په یاده موضوع کې مختلفې لیکنې او رسالې ولولي.

۳. حکومت ته مې وړاندیز دی تر څو د رسنیو له لارې د استسقاء د اهمیت، عملي طریقې او ورته مسائلو باندې خلک پوه کړي.

**ماخذونه**

القرآن الكريم

البخاري، ابوعبد الله محمدبن اسماعيل البخاري،صحيح البخاري،الناشر: دار طوق النجاة،الطبعة: الاولى ۱۴۲۲هق، عدد الأجزاء۹.

ابن المنظور،محمد بن مكرم بن المنظور الافريقي المصري، لسان العرب، الناشر: دار صابر بيروت، الطبعه: الاولى، عدد الاجزاء:۱۵.

شمس الدين، محمدبن أبي العباس بن شهاب الدين الرملي، نهاية المحتاج الى شرح المنهاج، الناشر: دارالفكر بيروت، الطبعة: الثالثة، عدد الاجزاء: ۸

ابن عابدين،محمد امين بن عمر بن عبدالعزيز الدمشقي الحنفي، حاشية رد المحتار على الدرالمختار،الناشر: دار الفكر للطباعة والنشر، الطبعة: الثانية، عدد الاجزاء: ۸

ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين عبدالله بن احمد بن محمد بن قدامة، المغني، الناشر: مكتبة القاهرة،الطبعة: بدون الطبعة، عدد الاجزاء: ۱۰.

النووي، آبو زكريا محي الدين يحيى بن شرف النووي، المجموع شرح المهذب، الناشر: المكتبة المنيرية.

الشوكاني، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني اليمني، نيل الأوطار، الناشر: دار الحديث بيروت، الطبعة: الأولى، عدد الاجزاء: ۸

عبد الرزاق، أبوبكر عبد الرزاق بن همام بن نافع الحميري، مصنف عبد الرزاق، الناشر: المكتبة الاسلامي بيروت، الطبعة: الثانية ۱۴۰۳هق، عدد الأجزاء ۱۱.